AFGHAN GERMAN ONLINE
http://www.afghan-german.com
http://www.afghan-german.de
افغان جرمن آنلاین

مسئولیت متن و شکل بدوش نویسندهٔ مضمون میباشد، عقیدهٔ نویسنده لزوماً نظر افغان جرمن آنلاین نمی باشد

عزت‌الله ادیب
۲۰۲۴/۰۴/۱۹

# د تحقیق میتودولوژي

## د تحقیق د ډیزاین له نظره د میتودولوژي پېژندنه او پرتله

## لومړۍبرخه

د تحقیق په برخه کې د «میتودولوژي» په اړه ډېر بحثونه کیږي، او دا موضوع هر چاته زیات ارزښت لري. سوال دا دی چې دا لفظ ولې دومره ډېر مهم دی؟ دې پوښتنې ته د ځواب موندلو لپاره باید لومړی د علم او ساینس په اړه له مطالعې پیل وشي، بیا وروسته د میتودلوژي پیژندنې برخه ښه ولوستل شي. لکه ښڅګه چې (کوهن، ۱۹۹۶ )لیکي، ساینس باید څکه ولوستل شي چې علم یا ساینس د تیرو زمانو د لاسته راوړنو پر اساس د هرې برخې لپاره یو قوي اساس یا بنسټ جوړ کړی دی. علمي ټولنې د څېړنو لپاره هم زښت زیات کار کړی دی، او د دې برخې د روڼتیا او ثبات لپاره یې طرزالعملونه او کړنلارې رامنځته کړې دي، او هر ځل چې د دې طرزالعملونو پر اساس نوې پوهه رامنځته کیږي، هغه د خلکو لپاره په اساني د منلو وړ وي.

بل لور ته دا هم ممکنه ده چې، نوی علم دې د تیرو لاسته راوړنو پر اساس د رامنځته شویو بنسټونو خلاف رامنځته شي، خو دا نوې پدیده باید د څېړنې او تحقیق ټولو طرزالعملونو سره اړخ ولګوي؛ تر څو یې خلک پر روڼتیا او ثبات شک ونلري او ټولمنلی علم و اوسیږي. دا ځکه چې، علمي ټولنې هغه مفاهیم چې د ټولنې اساسي فرضیې ننګوي، رد کوي او په خلاف یې دریږي، په خاصه توګه هغه وخت کله چې موجوده طرزالعملونه او کړنلارې په نظر کې نیول شوې نه وي.

میتودلوژي څه شي ته ویل کیږي؟ دا ډیره تکراریدونکې پوښتنه ده، او ډیر مختلف ډوله تعریفونه لري؛ خو دلته یې د پورته معرفي پر اساس تعریفوم. میتودلوژي د پروسو یا طرزالعملونو او کړندودونو مجموعې ته ویل کیږي. همدا تعریف (پاتریسیا ،۲۰۱۷ ) په خپل کتاب کې په ډیر تفصیل سره تشریح کړی دی.

د څېړنو په برخه کې دوه میتودلوژي ډیرې مشهورې دي چې یوه یې کمی او بله یې کیفي بلل کیږي؛ خو اوسمهال د دریم میتودلوژیک حرکت بحث دومره تود دی چې په دې نورو دوو یې سیوری غوړولی دی. دریم میتودلوژیک حرکت مختلط میتود دی چې د کمي او کیفي هغو د قوت د ټکیو په مدغم کولو سره نوې پوهه تر لاسه یا رامنځته کوي. کمي میتود چې اصل یې له ساینسي میتودونو سرچینه اخلي د ارقامو یا مالوماتو د تحلیل لپاره له احصائیوي طرزالعملونو کار اخلي؛ خو بل لور ته کیفي میتود چې د اطلاعاتو د تحلیل لپاره په تشریحي او توصیفي روایتونو ولاړ دی او توصیفي مالومات ترې تر لاسه کیږي (بوریس او لوکا، ۲۰۰۶). د څېړنو په برخه کې کمي تحقیق د اوږدمهاله مخینې پر اساس، د څېړنو پر ادبیاتو تسلط لري، یانې ساینسي مخینه یې ډیره زیاته ده، خو په مقابل کې یې کیفي تحقیق د پوهې او علم د یوې مهمې سرچینې په توګه پیژندل کیږي. د کمي او کیفي تحقیق تر منځ داسې تشې موجودې وې/دي، چې یوازې د کمي یا کیفي میتود پر مټ نه شوې/شي ډکېدای؛ نو له همدې امله یو دریم میتودولوژیک حرکت ته اړتیا وه چې د کمي او کیفي میتودونو د قوت ټکي داسې سره یو ځای کړي چې یوه نوې پوهه یا علم رامنځته کړي. دا دریم میتودولوژیک حرکت د مختلط یا مېکس میتود په نوم یادیږي، چې اوسمهال په چټکي سره د پرمختګ په حالت کې دی.


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په خیر و لولئ

د مختلط میتود په برخه کې یوه یادونه اړینه ده، هغه دا چې، څېړونکي باید د مختلط میتود او څو میتودیزه کړنلارو تر منځ توپیر وکړي. په دې اړه لا ډېر مالومات زما په کتاب (سروې او ټولنیز تحقیق، ۲۰۲۳) کې موندلی شئ.

کومه میتودلوژي غوره کړو؟ د میتودولوژي انتخاب تر ډېره د څېړنې د پوښتنې سره اړیکه لري او د څېړنیزې مسألې او هدف په نظر کې نیولو سره مناسبه میتودولوژي غوره کیږي. د څېړنې پوښتنه تل دوه حالته لري، چې یو خواته یې مشکوکې مشاهدې او بل لور ته یې ازمایښتیزه سپړنه یا لټون پروت دی. دا مالومه خبره ده چې څېړونکی دوهم لوری غوره کوي، او د نوموړي پوښتنې په اړه ازمایښتیزه سپړنه یا تحقیق پیلوي (کووپر او شیندلر، ۲۰۰۶). کله چې د پوښتنو په اړه فکر کوو، هغه کیدای شي د موخو یا اهدافو د انتخاب، د حل لارو د تولید او ارزونې، د ستونزو د حل او یا د وضعیت د کنټرول لپاره وي. په دې توګه څېړنیزې پوښتنې په مختلفو برخو ویشل کیدای شي. د تحقیق د ډیزاین په برخه کې د څېړنیزې پوښتنې /و په سمه توګه پېژندل د میتودولوژي د انتخاب او ډیزاین له برخې سره ډېره مرسته کوي. دا په دې مانا چې څېړونکی باید د تحقیق د موضوع، ستونزې یا پوښتنې او هرې برخې په اړه ډیر چرت ووهي، او د خپل کار په اړه هوښیارانه او علمي تصمیم ونیسي.

دا مقاله به د تحقیق د کمي، کیفي او مختلط میتود اړوند مختلف میتودونه تشریح کړي، همدا ډول به د مختلفو میتودولوژیو پرتله او په اړه به یې هراړخیز اړین مالومات رامنځته کړي.  لوستونکي او محصلین باید دا فکر ونکړي چې یوازې یوه مقاله د میتودولوژي موضوع روښانه کولای شي، نه داسې نده؛ بلکه په دې اړه باید لسګونه کتابونه ولوستل شي او یا په دې برخه کې تخصص وشي.  که دا مقاله په دقت ولوستل شي، د همدې موضوع اړوند د نورو مطالعې لپاره یې لومړی او غوره اقدام ګڼلی شو.

## د کمي تحقیق میتودولوژي:

دا چې کمي تحقیق له تاریخي نظره د ساینسي او علمي اکتشافاتو مهمه سرچینه بلل کېده او په دې برخه کې اوږده مخینه لري، اوس هم د څېړونکو تر منځ د غوره سنتي میتود په نوم پیژندل کیږي. ښه به ورته ووایو، نه تر ټولو غوره؛ ځکه هره میتودولوژي خپل د قوت او کمزورتیا ټکي لري؛ خو کمي میتود د علمي او اکاډیمیکو څېړنو په برخه کې لا هم زیات کارول کیږي (ګیردیس او کوون، ۲۰۰۱). له همدې امله، د دې میتود د کارولو او عملي کولو لپاره زیات طرزالعملونه او پروسې چمتو شوې دي. کمي تحقیق لکه له نوم (کمیت) څخه یې چې مالومیږي، د ریاضیکي یا عددي مالوماتو په ډول کارول کیږي. دا تحقیق د تجربو او سروې پر مټ د اندازه کولو وړ ډاټا را ټولوي، چې د احصایوي پروسو په عملي کولو سره تحلیل کیږي (کریسویل، ۲۰۰۳).

د دې ډول تحقیق لویه ګټه دا ده چې ارقام یا مالومات د یو نسبتاً کوچني ګروپ یا ډلې (نمونې) څخه را ټولیږي او په لوی نفوس د تعمیم وړتیا لري. د دې لپاره پر نمونه‌اخیستنه پوهېدل لازمي دي، او بل دا چې څنګه باید له لوی نفوس څخه داسې نمونه واخیستل شي، چې پایلې یې په ټول نفوس د تعمیم وړتیا ولري. د دې لپاره زما د کتاب (سروې او ټولنیز تحقیق، ۲۰۲۳) د نمونه اخیستنې برخه ولولئ.

> د تجربوي او غیر تجربوي څېړنو تر منځ کلیدي توپیر د څېړونکي لخوا د څېړنې د چاپیریال په کنټرول او لاسوهنې یا د د څېړنې د محیط د کنټرول او اداره کولو تر حد او اندازې پورې تړلی دی. په تجربوي څېړنو کې څېړونکی چاپیریال تنظیموي او په ډیر دقت سره د خپلې خوښې متغیر یا متغیرونو کې لاسوهنه کوي. غیر تجربوي څېړنې په یو حقیقي او واقعي چاپیریال کې ترسره کیږي، او څېړونکی په هیڅ کوم متغیر د کنټرول او اداره کولو واک او اختیار نلري؛ بلکه هر څه په طبیعي ډول ترسره کیږي. دا په دې مانا چې په غیر تجربوي څېړنو کې د علت معلومول اسان کار نه دی؛ خو دا څېړنې د خپل انعطاف منونکي خاصیت له امله د ډیرو موضوعاتو د مطالعې او څېړنې زمینه برابروي   (ګروګوري جې او پریوټیرا، ۲۰۲۲)


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکاری ته رابولي.  په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ  maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په غیر و لولئ

د کمي تحقیق په برخه کې تجربوي او غیرتجربوي ډیزاینونه کارول کیږي، چې په لاندې برخه کې د تجربو او غیر تجربوي ډیزاین د میتودونو په اړه لولو!

## تجربوي ډیزاین:

تجربوي ډیزاین په یوه پدیده کې د تغیر او اوښتون د جریان د کنټرول او څارنې په موخه په لابراتوار کې تر سره کیږي (براوون او لورډ، ۱۹۹۹). تجربوي ډیزاین ډیرې ګټې او مزایاوې لري، چې لومړی هغه یې د علت او معلول په اړه پوهیدل دي. په تجربوي ډیزاین کې خپلواک او غیر خپلواک (غیرمتکي) متغیرونه پر یو بل تاثیر کوي، نو په دې توګه له دې ډول ډیزاین څخه یوه نتیجه تر لاسه کیږي، یانې د علت سبب کیږي. که چیرته یو متغیر پر بل هغه کوم تاثیر پریباسي، نو موږ دې پایلې ته رسیږو چې تر لاسه شوې نتیجه یا حالت د متغیرونو د عمل نتیجه ده. تجربوي میتودونه له څیړونکي سره د یو متغیر یا متغیرونو د ځانګړتیاوو او کیفیت په پیژندلو او د هغوی د سهم په اندازه کولو کې کې مرسته کوي.

که لږ یې په بل ډول تشریح کړو؛ نو ویلی شو چې، تجربوي ډیزاین د کمي میتود هغه بنسټیز مفهوم دی چې - د یوې سیستماتیکې پروسې په لړلو سره - د متغیرونو تر منځ د علّي اړیکو (د علت او معلول) د مالومولو لپاره د اروپوهنې، ټولنپوهنې او طب په برخو کې ډیر کارول کیږي. یانې دا میتود له څیړونکي سره د علت او معلول تر منځ د اړیکو د موندلو او اندازه کولو په برخه کې مرسته کوي. په دې ډول تجربو یا څیړنو کې کیدای شي متعدد تجربوي شرایط شامل وي، ځکه ممکنه ده چې لومړی د خپلواک متغیر مختلفې برخې معاینه او بیا یې پر غیرخپلواک یا وابسته متغیر اغیزې وڅیړل شي. که دا ډول څیړنې په سمه توګه عملي شي، له موږ سره د مختلفو او پیچلیو پدیدو په پیژندنه کې ډیره مرسته کولی شي، او کړې یې هم ده. محصلین او څیړونکي چې غواړي کمي تحقیق په سمه توګه ډیزاین، عملي او کره پایلې تر لاسه کړي؛ لومړی باید کمي تحقیق او تجربوي میتودونه په سمه توګه زده کړي او بیا یې د موجوده کړنلارو سره سم عملي کړي.

## غیر تجربوي ډیزاین:

په غیر تجربوي ډیزاین کې مشاهده، سروې، او د عددي مالوماتو د را ټولولو نور اړوند میتودونه شامل دي، چې لابراتوار ته اړتیا نه لري. د دې ډول تحقیق یوه ځانګړنه دا ده چې د تجربوي ډیزاین خلاف، دلته په خپلواک متغیر/ونو کې لاسوهنه نه کیږي؛ نو له دې امله غیر تجربوي تحقیق له خپل طبیعي حالت سره ترسره کیږي او هیڅ بیروني مداخله نه پکې رامنځته کیږي (لومبیبر جې، ۲۰۱۰). په دې ډل تحقیق کې له یو مشخص نفوس څخه د متغیرونو په اړه د مالوماتو د را ټولولو لپاره له سروې او مشاهداتو څخه کار اخیستل کیږي.

سروې د سیاسي نظرپوښتنو په شمول د شخصي چلندونو، بازارموندنې او د پالیسي جوړونې په شمول د ګڼو نورو کټورو مالوماتو د را ټولولو لپاره کارول کیږي. په سروې کې د ډاټا د ساحوي کار پر مټ را ټولیږي، یانې لومړی لاس مالومات تر لاسه کیږي، چې په دې سره د تحقیق داخلي او بیروني اعتبار زیاتیږي. بیروني اعتبار په دې مانا چې د سروې پایلې چې له یوې نمونې څخه تر لاسه شوې دي، عمومي نفوس ته د تعمیم وړ وي (ابیګان، ۲۰۰۵). دا چې د سروې لپاره څومره مالومات په کار وي؟ څنګه ډیزاین او عملي شي؟ په دې هکله زما په کتاب (سروې او ټولنیز تحقیق، ۲۰۲۳) زښت زیات مالومات موندلی شئ.

په سروې کې له پوښتنلیک او یا جوړښت لرونکو مرکو څخه کار اخیستل کیږي. له جوړښت لرونکو مرکو څخه هدف دا دی چې د سروې د هر ګډونوال سره - بغیر له کوم انحراف څخه - یو ډول پوښتنې کارول کیږي. لکه پورته چې مې اشاره وکړه، د سروې په کار کې لومړی له عمومي نفوس څخه یوه نمونه اخیستل کیږي، مالومات او ارقام له نمونې څخه را ټولیږي، او بیا پایلې د احصائیوي تحلیل پر مټ پر ټول نفوس تعمیم کیږي.

د سروې د مالوماتو را ټولولو لپاره (کریسویل، ۲۰۰۳ ) په خپل کتاب کې د (فینک) هغه څلور وسایل ذکر کړي دي چې ډیر کارول کیږي:

- هغه سوالنامې چې ځواب ویونکي یې پخپله ځوابوي،
- مخامخ مرکې چې د څیړونکي لخوا تر سره کیږي،
- د ضبط شویو ریکارډونو یا غږونو څیړل، او
- جوړښت لرونکي مشاهدات


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بنې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولئ

د پورته وسايلو تشريح او د سروې د اعتماد او باور تشريح کول د دې مقالې له توان څخه د باندې دي، خو څېړونکی باید د سروې د اعتماد او باور په اړه ښه چرت ووهي او دې برخې ته کلکه پاملرنه وکړي. ډېری سروې د هغې د موندنو د اهمیت له نظره معاینه کیږي، تر څو د سروې د موندنو د داخلي او بیروني اعتماد کچه مالومه شي (کریس ویل، ۲۰۰۳).

## د تحقیق د ډیزاین اړوند لنډ مثالونه:

1. *په یو ښوونځي کې نوی لاربنود سیستم ډیزاین شوی دی، د ښوونځي مشر غواړي پوه شي چې د مکتب ښوونکي او زده کونکي د دې نوي معرفي شوي سیستم په اړه څه فکر کوي. د دې لپاره باید کوم ډول تحقیق ترسره شي؟*

د دې پوښتنې لپاره باید له سروې څخه کار واخیستل شي. په دې ډول تحقیق کې دوه پوښتنلیکونه ډیزاین کیږي چې یو له شاګردانو او بل له ښوونکو سره عملي کیږي. له دواړو څخه د نوي ډیزاین شوي سیستم په اړه هر اړخیزې پوښتنې پوښتل کیږي.

2. *زه غواړم پوه شم چې په یوه ټولګي کې د ښوونکو درسي تمرین د شاګردانو پر خپلذاتي فکر څومره اغیزه پریباسي، د دې پوښتنې لپاره باید څه ډول تحقیق ډیزاین شي؟*

د دې پوښتنې لپاره باید د سروې او مشاهدو ګډ تحقیق ډیزاین شي. په دې ډول تحقیق کې باید له شاګردانو د ډیټا را ټولولو لپاره یو پوښتنلیک ډیزاین شي، چې باید په څو مختلفو صنفونو کې عملي شي. له شاګردانو سره د کار کولو پر مهال باید د دوی د خپل ذاتي فکر، لاسته راوړنو او د کورنی د شالید په اړه یې هم باید مالومات را ټول شي، ځکه په دې ډول تحقیق کې یوازې صنفي تمرینونه نه؛ بلکه نور متغیر هم اغیزه لري. د مشاهدې په برخه کې باید په صنف کې د استادانو تمرینونه د یو پوښتنلیک پر مټ وارزول شي. د تحلیل پر مهال څېړونکی کولی شي وګوري چې د ټولو متغیرونو لپاره د خپل ذاتي فکر او د صنف د تمرینونو تر منځ اړیکه شته او که هیڅ اړیکه نشته، یا کمه ده.

نور بیا

دوهمه مقاله: کیفي او مختلط میتود ډیزاینونه،

دریمه مقاله: د کمي، کیفي او مختلط میتود تحلیل او پرتله،

د ټولو مقالو ماخذونه په اخري مقاله کې ذکر کیږي.


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکني د لیکنیزی بني پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له راالیرلو مخکې په ځیر و لولـئ